## په ټولنه کې د ښځو رول



# په ټولنه کې د ښځو رول

## کلارا زیتکین

ژباړه: محمد نعیم هوتک

## يادښت

ټولنه هر وخت د تکامل په حالت کې وي. د ډېرو عصر کې انسانانو له ډېرو جوړ اوزار کارول. د ټولنيز پرمختګ سره دغه اوزارو هم تکامل وکړ. بيا داسې يو وخت هم راغی، چې ماشينونه پکښې د توليدي وسايلو په توګه کارول کيږي.

کله چې توليدي وسايل بدلون وکړي، نو نومونه، محاورې او استعارې هم بدلون کوي. د اوښانو او آسپونو پر ځای د تګ او راتګ وسايل موټرې او بسونه راغلل.

د کليو پر ځای اوس په ښارونو کې وړې کورنۍ ژوند کوي. اړيکې نورې هم سره نږدې کيږي. د اوبو نلونه کورونو ته ورتيريږي، هګۍ او شيدې په پېسو رانيول کيږي. د وينا آزادي، لاريون، هڅې او اقتدار هر څه بدلون کوي. يانې پخواني قوانين ورو ورو له مينځه ځي او نوي قانون رواج مومي.

دغه نوي قوانين او رواجونه له ټکنالوژۍ سره نږدې اړيکي لري يا د ټکنالوژۍ له نظره ترتيب کيږي. نننۍ ټکنالوژي سيمه ييزه نده، بلکې نړيواله ده. ځکه خو اوس سيمه ييزو رواجونو او قوانينو نړيوالې بڼې خپلې کړي.

پدې نوې ټولنه کې به د ښځو رول او حيثيت څه وي، دغې رسالې کې بحث پرې شوی. دلته دا موضوع د نړۍ پرولتاريا دريم رهبر (ستر لينين) سپړي. دغه ټولې خبرې يې د ښځو د خوځښت له سترې رهبرې کلارازيتکين سره کړي. پدې رسالې کې د ښځو پر مسايلو هر اړخيز بحث شوی.

نيمه پېړۍ مخکې دغه رساله سی آر اسلم اردو ژبې ته ژباړلې وه. دغه رساله اوس ډېره ځانګړې رساله ده. سنګت اکاډمي يو ځل بيا خپره کړه.

شاه محمد مری

2017 ميلادي د جولای شپږمه

## د کلارازیتکین پېژندنه

کلارازیتکین د ۱۸۵۷ میلادي کال، د جولای میاشتې په پنځمه نېټه د جرمني، وایردریو کې زېږېدلې. پلار یې په ترایید ایزر مکتب کې تدریس کاوه او د پروتستانت کلیسا غړی وو. مور یې جوسنفزي وایتل فرانسوي النسله وه او یوه ډېره تعلیم یافته ښځه وه. کلارازیتکین چې کله خپلې زده کړې پای ته ورسولې، نو ښوونکې شوه. په ۱۸۷۹ میلادي کال کې یې د زیارکښو او ښځو خوځښتونو سره اړیکې ټینګې کړې. د جرمني په سوسیالیست کارګري ګوند کې یې ګډون وکړ. چې بیا وروسته د جرمني سوسیالیست دموکرات ګوند باندي ونومول شو. په ۱۸۸۲ میلادي کال کې د بسمارک په زمانې کې سویزرلینډ ته کډواله شوه. هغې په خپل ګوند کې ستر کارونه تر سره کړل او له روسي النسل میکسم اوسپ زیټکن سره یې واده وکړ. دوه ماشوومان یې درلودل.

په ۱۸۸۹ میلادي کال کې اوسپ زیټکن ومړ. بیا یې له یو هنر مند جارج فریډرک سره واده وکړ. کلارا د سوسیالیست دموکرات ویمن خوځښت ګوند بنسټګره ده. هغې ورځپاڼې هم چلول. کله چې په المان کې د هټلر نازي حکومت واک ته ورسېد، نو کلارا شوروي اتحاد ته ولاړه. په ۱۹۳۳ میلادي کال، د جون په ۲۰ نېټه، د ۷۵ کلونو په عمر ومړه. ملګرې کلارا د ماسکو په کریملن هدیرې کې خښه ده.

**سریزه**

کلارازیتکین یوه جرمنۍ ښځه وه، چې په ۱۸۵۷ میلادي کې زېږېدلې او په ۱۹۳۳ میلادي کال کې مړه شوې. هغه د جرمني د کارګري خوځښت او نړیوال کارګر خوځښت یوه نامتو ښځه وه. هغه د جرمني کمونیست ګوند غړې وه. دې د ښځو لپاره یو نړیوال خوځښت جوړ کړ. (د مارچ اتمه د همدې ویاړمنې ښځې په هڅو د ښځو ورځ نومول شوې. ژباړن). زیاته موده د یاد ګوند مشره وه. د نولسمې پیړۍ په اواخرو او د شلمې پیړۍ په پیل کې د ښځو د حقونو او مسایلو بحثونو ځښته زیات زور ونیول. هغې هم په دغه بحثونو کې برخه واخیستل او د ښځو د خوځښت په اړه یې څو ځله له لینین سره مرکې کړي. د لینین د مرکې په اړه یې خپل کتاب (زما یاداښتونه) کې زیات تفصیلي بحث کړی.

د کلارازیتکین له کتاب څخه دغه برخه (د لینین نظریات د ښځو په اړه) تر نامه لاندې خپریږي چې د ښځو له مسایلو او حقونو سره تړاو لري، په دغه برخه کې د سوسیالیست انقلاب ستر رهبر لینین نظریات ذکر شوي/بیان شوي.

## په ټولنه کې د ښځو رول

د ښځو د حقونو په اړه مې له ستر لینین سره زیات بحثونه کړي. د دغو بحثونو په لړ کې یې خپل زیات نظریات راسره شریک کړل. دا یو څرګند حقیقت دی چې ستر لینین د ښځو حقونو ته ډېر درناوی درلود. د هغه له نظره د ښځو خوځښت د ولسي خوځښت یو ډېره غوښنه برخه جوړوي او په زیاتو وختونو کې ډېر مثبت رول لوبوي. هغه غوښتل چې ښځې او نارینه باید په ټولنه کې یو ډول حقونه ولري. د هغه له نظره هېڅ یو کمونیست له یادې خبرې سره ستونځه نهویني/لري.

په ۱۹۲۰ میلادي کال کې مې په لومړي ځل له ستر لینین سره دغه بحث راواخیسته. دغه بحث د کریملین په کتابتون کې ترسره شو. د لینین مخې ته ځینته زیات کتابونه او نسخې پرتې وې. خو پدې ګڼووډی کې هم ځانته یو ترتیب لېدل کېده. دا یوه عامه اصطلاح ده چې د پوهان بې نظمه وي، خو څومره چې یې کتابتون بې نظمه وي، هغومره یو ستر پوه وي. خو د لینین په اړه دغه خبره صدق نکوي.

لینن: "موږ ته پکار ده چې د ښځو یو نړیوال او ځواکمن خوځښت جوړ کړو. دا یو ستر حقیقت دی چې له مارکسیستي نظریو پرته زموږ عمل بې ګټې دی. تر کومه چې د ښځو د نړیوال خوځښت خبره ده نو موږ کمونیستان باید پاخه قوانین ورته ترتیب کړو. پکار ده د خپلو او نورو ګوندونو تر مینځ سړې کرښې ولرو. دا نو بدبختي ده چې زموږ نور ګوندونه د ښځو د حقونو په اړه هېڅ نه پوهیږي. په دې کانګرې کې که څه هم دا پوښتنه راپورته شوه، خو ځواب یې څرګند نشو او نه یې هم کومه مثبته موخه لرله. د دغې کانګرې یو نوماند کمیسیون نن هم پر دغې پوښتنې غور کوي. پکار ده چې یاد کمیسیون دې د یادې پوښتنې لپاره یو منظمه مرامنامه ترتیب کړي. خو دغه کمیسون تر اوسه کوم کار ندی کړی او پکار ده چې ورسره مرسته وکړئ".

ستر لینین چې کومې خبرې وکړې، له نورو څخه مې هم اورېدلې وې. د کمیسیون په بې عملئ حیرانه شوم. په انقلاب کښې روسي ښځو ډېر مثبت رول ولوبوه، نو پر ما یې هم اغېزه وکړه. روسي ښځې باید وستایل شي. دوی د بالشویک ګوند غړې وې. د ګوند دننه هېڅ ډول پټ راز نه ساتل کېده. ځکه خو یو بې مثاله ګوند وو. یواځې دغه ګوند د ښځو

د نړیوال کمونیست خوځښت لپاره تجربه کاره کادرونه او روزل شوې ښځې نړۍ ته وروپیژندلې. دغو کمونیستي ښځو په تاریخ کې ځانته ځانګړی ځای خپل کړ.

کله چې یې زما خبرې واورېدې، نو لینین مسکی شو او وویل: "له دې حقیقت سترګې نشي پټېدای، چې د روسیې کمونیستي ښځو ځښته ستر خدمتونه ترسره کړي. په پیتر ګراد، ماسکو او نورو ښارونو او صنعتي مرکزونو کې پرولتاریایي ښځو په انقلاب کې ځښته زیات کارونه ترسره کړل. زما له فکره که چېرته دوی نه وې، نو انقلاب به بریالی نه وو یا به هم په ځښتو زیاتو مشکلاتو بریالی کېده. خپل ځانونه یې نړۍ ته څرګند کړل. ته خو لږ فکر وکړه! چې په څومره خلاصو زړونو یې بیوزلي، لوږه او تنده زغمله. خپلو پوستو کې به ناستې وې، ترڅو د خلکو ساتنه وکړي، د خپلواکۍ او کمونیزم له دښمنانو څخه یې وژغوري. زموږ کارګرې ښځې بې مثاله طبقاتي مبارزینې دي؛ دوی باید وستایل شي. په تلو تلو کې به دغه خبره وکړم چې دغو ښځو زموږ سره زیاتې مرستې وکړې، تر څو انقلاب بریالی شو.

(دا یو ستر حقیقت دی چې زموږ د ګوند ښځې هوښیارې، ځیرکې او د اعتماد وړ دي. په ټولو وزاروتو او نورو حکومتي څانګو کې زموږ سره یو ځای کار کوي او مساوي حقونه لري. بې شمیره یې د شپې او ورځې کار کوي.

په ګوند، کارګري خوځښت او سره پوځ کې د شپې او ورځې کار کوي. د انقلاب لپاره به تر دې هم ستر کار څه وي؟ د شوروي اتحاد ښځې چې کومې کړنې ترسره کوي، دا په نړیوالو ښځو هم اغېزې ښیندي. دغه ډول کړنې د ښځو د وړتیاؤ ثبوت وړاندې کوي او خلکو ته څرګندوي، چې ښځې په ټولنه کې مثبت رول لوبوي. لومړنۍ پرولتاریایي دیکتاتوري، په ټولنه کې هڅې کوي، تر څو ښځې دې له نارینه ؤ سره مساوي حقونه ولري. د ښځو په مقابل کې دې هر ډول تعصب او تبعیض له مینځه یوړل شي. د ښځو په اړه لیکل شوي ټول کتابونه له دغه ډول تبعیض څخه ډک پراته دي. د نړۍ لومړی سوسیالیست حکومت غواړي ښځې او اشخاص دې یو ډول حقونه ولري).

"دا د افسوس ځای دی چې کمونیستانو د ښځو لپاره کوم نړیوال خوځښت ندی جوړ کړی. پکار ده له نن څخه دغه کار پیل شي. له دغه پرته کمونیست انټرناسیونال نشي بشپړ کېدلی. انقلاب یو نړیوال عمل دی او د ښځو د نړیوال خوځښت پرته نیمګړی دی. راته

ووایئ! په بهرنیو هیوادونو کې د کمونیستانو کړنې څنګه ارزیابي کوئ؟".

د لینین د خبرې ځواب مې په خورا تفصیل سره وړاندې کړ او ورته ومې ویل: د کمونیست انټرناسیونال د ګوندونو ترمینځ اړیکې ډیرې کمزورې او بې قاعده دي. لینین په ژور فکر سره زما ټولې خبرې واورېدې. یانې معمولي خبره یې په ژور فکر سره وارېده. له لینین څخه پرته مې داسې کوم شخص نه وو لېدلی، چې زما خبرې یې داسې په ژور فکر سره اورېدلي وي . کله چې زما خبرې خلاصې شوې نو هرڅه یې تحلیل کړي ول. د خبرو په مینځ کې به یې ځینې لنډې پوښتنې هم کولې، ترڅو ټول واقعیت ورته څرګند شي. د خبرو په وخت کې یې له ځان سره یاداښت نیوه، ترڅو وروسته بیا عمل پرې وشي او په اړه یې حواله ورکړي.

د جرمني د سیاسي حالاتو په اړه مې بشپړ بحث وکړ. لینین ته مې وویل چې ملګرې رزالوکزامبرګ په خپل انقلابي خوځښت کې ښځو ته ځښته زیات اهمیت ورکوي ترڅو ګډون وکړي. کله چې کمونیست ګوند جوړ شو نو رزالوکزامبرګ ټینګار وکړ؛ چې د ښځو لپاره دې یوه ورځپاڼه پرانیستل شي. ما له لیوجوګچپس سره د هغه له مړینې ۳۶ ساعته مخکې ولېدل. د ګوند په اړه مو خبرې وکړل. ماته یې زیات کارونه را وسپارل، چې یوه موخه یې د ښځو د ګوند جوړونه وه. د ګوند په لومړنۍ غیر قانوني کانګرې کې پر دغه خبرې بحث شوی وو. هغو ښځو چې په لومړۍ نړیوالې جګړې کې ښې ځلېدلې وې، هغوی د سوشل دموکرات ګوند غړې وې او بې شمیره ښځې پرې راټولې وې، پدې سربېره داسې جذباتي ښځې هم وې، چې په کمونیست ګوند کې یې ګډون وکړ. په دغه برخه کې ګوند ځښته زیات کارونه وکړل خو دا یې د کار پیل وو او لینین مې په هر څه خبر کړ.

لینین مې په ځواب کې وویل: پیل یې ډېر بد ندی، بلکې یو ښه پیل دی. د کمونیست ښځو کړنې ډېرې پر مخ رواني دي او هیله ده چې یوه ښه پایله ورکړي. د دوی له زیار څخه به ګوند نور هم پراخ او کارونه به یې زیات شي. ګوند به د ولس په زړونو کې ځای ونیسي او په سیاسي کړنو کې به ژر تر ژره ګډون وکړي. اړینه ده چې ټولو ملګرو ته د دغې پوښتنې اهمیت وروښودل شي؛ پکار ده وروزل شي چې د ښځو په مینځ کې څه ډول کار وکړي او ښځې د انقلاب لپاره څومره اړینې دي. تاسې په دې برخه کې تر اوسه

څه کړي؟. په ولس کې دې باید د کار کولو لپاره کادرونه وروزل شي. ځکه پکار ده چې خلکو ته دې سوسیالیزم په ډېر ښه مفهوم ورسول شي ترڅو زموږ غوښتنې پوره شي. نیپوهېږم دا به د چا قول وي [ چې د سترو کارونو لپاره د حوصلې او عشق اړتیا وي]. پکار ده چې د نورو هیوادونو د کارگرو لپاره ستر کارونه ترسره کړو. پوښتنه اوس دلته پیدا کیږي، چې د جرمني ښځې باید څه ډول وهڅول شي، ترڅو سترې کړنې پرمخ یوسي؟ د پرولتاریا طبقې شعور یې څومره دی؟ ایا یو ناڅاپه له سیاسي چارو څخه اغېزمنیږي او عمل کوي؟ ــ د دوی د فکر مرکز څه دی؟].

(ما له روسي او جرمن ملگرو څخه ډول ډول خبرې اورېدلي. زه غواړم په ټولو دې پوه کړم. ماته ویل شوي چې یوه جرمنۍ ښځه غواړي د نڅاگرو لپاره یوه ورځپاڼه پرانیزي او د انقلابي کړنو لپاره یې اماده کړي. رزالوکزامبورگ یوه ریښتینې کمونیسته ده. کله چې پولیسو یوه نڅاگره زنداني کړه، د رزا انساني خواخوږي راوپارېدله او د پولیسو د ظلمونو خلاف یې یوه مقاله ولیکله. دوی په پانگوالې ټولنې کې ځښته زیاتې زورول کیږي . د شخصي ملکیت او پانگوالې ټولنې د اخلاقیاتو ښکار دي. پدې کې هېڅ کوم شک نشته چې د پانگوالې ټولنې تر ټولو مظلومې او بدبختې ښځې دي. کوم ناپوه، تنگ نظر او بې عقل به له دې حقیقت څخه انکار کوي. خو پدې خبرې پوهېدل چې نڅاگري په مختلفو گوندونو کې راټولول، ورځپاڼې ورته خپرول، د سوداگري لپاره کوم کمیسیون ورته جوړول، دا یوه بله موخه ده. ایا په جرمنې کې کارگرې ښځې خلاصې شوي، چې د راټولولو، ورځپاڼې خپرولو او د رهبري کولو اړتیا پاتې نه وي؟

آیا دغه پوه ښځه چې کومه کړنلاره لري، دا احمقانه نده. ښه مې یاد دي، چې یو وخت دا ادبي فیشن گرځېدلي وو چې هره نڅاگره دې د معصوم مریم په څېر وړاندې کړل شي. دا د دغې ټولنې د خواخوږي پایله ده ،چې له دغو مظلمو ښځو سره د انساني خواخوږي په پایله کې مینځته راځي. او د دغې کرکې اظهار هم دی چې د (ریښتیني/باشرفه) بورژزوا طبقې خلاف منافقانه اخلاقیات مینځته راځي یانې د نڅاگرو ساتونکي دي. خو له بورژزوا څخه د کرکې موخه دا نده چې دغه ډول بې گټې او احمقانه کارونه دې وشي او د جسم پلورلو په حقیقت دې سترگې پټې شي. په هر هیواد کې د نڅاگرو دغه ډول مسئلې شتون لري. زموږ په خپل هیواد کې د نورو مسایلو سره دا مسئله هم شتون لري چې

له وخت سره به يې حل کړو. په ټولنه کې نځاگرو ته لوړ مقام ورکړئ، روزگار ورته جوړ کړئ او د تولید په عمل کې يې له ځان سره ښکیلې کړئ. دا زموږ د کار کولو موخې دي. زموږ اقتصادي مسایل په یو بل کې داسې را نغښتي دي، چې ټولنیزو مسایلو ته پاملرنه ډېره ستونځمنه شوې. د ښځو مسایل هم د دغو مشکلاتو یوه برخه ده. کله چې کارگرو حکومت خپل کړ، نو دغو مسایلو ته د حل لارې موندلی شي. په شوروي اتحاد کې ځښته زیات زیار پکار دی، تر څو دغې مسئلې ته د حل لاره ومونډل شي. موږ به يې حتمن حلوو. راځه! د جرمني په مسایلو فکر وکړو . په هېڅ یو حالت کې هم گونډ د خپل غړو بې بنسټه او بې گټو کړنو باندې سترگې نه پټوي. له دغه ډول مسئلې څخه به زموږ ترمینځ واټن زیات شي. راته ووایه، د دغې مسئلې له مینځه وړلو لپاره مو څه کړي؟".

له دې څخه مخکې چې زه ځواب ورکړم، نو لينين خپلې خبرې وغځولې او ویې ویل: " کلارا ستا د تېروتنو لړلیک ډېر اوږد او ډېر بد هم دی. زه خبر شوی یم، په کومو ورځو کې چې کارگرې ښځې د درس لوستلو او بحث لپاره راټولیږي، نو هلته په جنس او د واده پر مسایلو هم بحث کیږي. ستا د سیاسي بحثونو او زده کړو دلچسپي له دغو موضوعاتو څخه ښکاري". کله مې چې دا خبرې واورېدې، نو هېڅ باور مې نه راته. د پرولتاریا دیکتاتورۍ لومړی حکومت د نړۍ انقلاب دښمنو خلاف یو ستر اقدام دی. د جرمني د حالاتو له غوښتنو سره دې ژر تر ژره ټول کارگر سره یو شي او د انقلاب دښمنان دې له مینځه یوسي. دا نو حیرانوونکي خبره ده، کله چې د انقلاب دښمنان دومره سره گرم وي، نو کمونیستي ښځې دې خپل وخت د جنس او وادونو په بحثونو ضایع کړي. هغوی دې دغه کار ته ډېر اهمیت ورکړي او د دغو پوښتنو په اړه دې د کارگرو ښځو شعور ور لوړ کړي.

"ویل کیږي یوې دیانوي کمونیستي ښځې په جنس یوه مقاله لیکلې، چې د خلکو د خوښیو وړ گرځېدلې. دا څومره بې مانا کتاب دی. که کارگره ښځه غواړي، د جنس په اړه پوه شي نو د بایبل کتاب دې ولولي. بایبل په خپلو کتابونو کې د بورژزوا ټولنې خلاف ډېرې لوړې ژورې لیکلي، بلکې په دغه پورته ذکر شوي کتاب کې خو په طبقاتي نکتې هېڅ ډول بحث ندی شوی. په دغې رساله کې د فروئید د نظریو یادونه شوې او هڅه يې کړې، ترڅو ساینسي بڼه ورکړي. په دغو هڅو کې آغلې لیکوالې ځښته زیاتې تیروتنې هم

کړي. نن د فروئيد له جنسي نظريې سره مينه، د خلکو فيشن ګرځېدلی. په داسې رسالو او مقالو کې د جنس په اړه پورته نظريې باوري ندي. هغه ملګري هم ماته نږدې ندي، چې هر وخت په جنسي مسئلو کې سره غږيږي. زما له نظره څوک چې په جنسي بحثونو پاملرنه کوي، نو له دې څخه معلومېږي ياد شخص له جنسي فقر سره مخ دی. د داسې نظرياتو په وړاندې کولو، غواړي ځانته نارمل ژوند ولټوي ترڅو د بورژزوا طبقې د اخلاقياتو ښکار نشي. زما له نظره د بورژزوا طبقې اخلاقيات زيات بد دي. په ظاهره که څه هم دغه رسالې او مقالې انقلابي برېښي، خو که چېرته ژور مطالعه شي نو په پايله کې د بورژوا اخلاقيات را څرګندوي. دغې مسئلې ته چې ځينو پوهان څومره زيات وخت ورکړی، هغه په ګوند کې هېڅ ځای نلري. زموږ ګوند د طبقاتي شعور لرونکو مبارزو کارګرو ګوند دی".

ما يې خبره ور پرې کړه او ورته ومې ويل: په کومه ټولنه کې چې شخصي ملکيت او پانګوالي نظام رواج وي، هلته د جنس او واده بې شميره مسئلې مينځته راځي. دا مسئلې د ټولو طبقو ښځو لپاره د جګړو لامل ګرځي. د ښځو په بحث کې دې مسئلې د جګړې بڼه خپله کړې او په ځانګړې توګه جنسي اړيکو ډېر زور اخيستی. تر دې وړاندې به ښځو پدې مسئلې هېڅ ډول بحث نه درلود، خو نن پکښې راګېر دي. يو خوا ته دغه مسئله ده بلې خوا ته انقلاب راروان دی. پخوانۍ جذبې او نظريې د ماتې په حالت کې دي. په سر کې ټولنيزې اړيکې له ماتې سره مخ دي. د ولس تر مينځ نويو اړيکو ځای خپل کړی. د جنس او واده په معاملاتو کې د دلچسپې څرګندونه، دا هم ثابتوي چې ښځې دې بايد باشعورې شي. په پانګوالې ټولنه کې دغه بڼه د منافقت خلاف رد عمل دی. د واده دودونه ورځ تر بلې بدلون کوي، کورنۍ اړيکې نوې بڼې خپلوي او د ښځو اقتصادي بيوزلي د له مينځه تلو په حالت کې دی. په دغو حالاتو کې کارګرې ښځې د پانګوالې ټولنې له ابدي نظريو څخه خلاصون مومي. په دغو حالتو کې ښځو ته د جنس په اړه د بورژزوا طبقې اخلاقيات د منلو وړ ندي. د ټولنيزو نظريو غوښتنه ده چې په ټولنه کې دې هر ډول طبقاتي توپير او شخصي ملکيت له مينځه يوړل شي. نو که داسې وشول، بورژزوا ټولنه له مينځه ځي.

لينين مسکی شوو او ويې ويل:" تا د خپلو ملګرو او خپل ګوند يوه ډېره ښه دفاع وړاندې کړه. څه چې دې وويل، سيي دي؛ خو پکار ده، دا تيروتنې دې تحليل شي.

تېروتنه په خپل ځان کې خطا وي. ایا ته به راته ووایې، چې د زده کړو او بحثونو په لړ کې د جنس او واده پر مسئلې تاریخي او ساینسي خبرې کیږي. ته پوهېږې! د دې بحث لپاره باید ژوره مطالعه ولرو او پکار ده چې په مارکسیستي نظریاتو لاس بري وو. ایا دا حقیقت نلري، د کومې رسالې په اړه چې مو خبرې وکړې، د زده کړو او بحثونو په کانفرانسونو کې پرې بحث کیږي. که وکتل شي اړتیا وه، چې پر دغو خبرو دې نیوکي وشي. خو د جنس او واده په اړه غیر مارکسیستي نظریه غوره شوې. ستر لامل یې دا دی چې د جنس او واده مسایل د ټولنیزو مسئلو برخه نه ګڼل کیږي، بلکې برعکس ټولنیزې مسئلې یې برخې ګڼل کیږي یا ورپورې تړاو لري. نو دغې پایلي ته رسیږو چې مهم ټکي شاته پرېښودل شوي او له دې سره د کارګرو ښځو طبقاتي شعور نور هم کمیږي.

د حضرت سیلمان له قوله: هر کار باید په خپل وخت کې ترسره شي. دا څومره مثبته خبره ده. زه له تا څخه پوښتم، ایا دا وخت د دې دی؟ چې کارګرې ښځې په میاشتو میاشتو دغو بحثونو کې بوختې وساتل شي، چې مینه څه ډول کیږي؟ په یوه نارینه څرنګه ځان ګران کړو؟، پخوانیو نسلونو او قومونو څه ډول وادونه کول؟. دې ته د تاریخي ماتریالیزم نوم ورکول کیږي. نن خو دې ته اړتیا ده، چې کمونیستې او کارګرې ښځې دې خپل ټول فکر پرولتاریایي انقلاب ته ورکړي. له انقلاب وروسته به د ټولنې مادي بنه هم بدلون وکړي. د مادي او ټولنیزو اړیکو ترمنځ به بنسټیز بدلونونه راشي. نو پکار ده چې د واده پرځای دې انقلابي بحثونه وځېړل شي. ایا دا یې وخت دی، چې د اسټرلیا اوسېدونکو ته د واده دودونه وروښودل شي یا د تېري زمانې پر دغو دودونو چې هغه وخت کې یو ورور له خپلې خور سره واده کولی شو؟.

د جرمني کارګرو ته پکاره ده، د ورسلیز په تړون دې بحثونه وکړي. ځکه دغه تړون به په راتلونکو کې په ښځو ډیرې بدې اغېزې ولري. په راتلونکي کې به بې روزګاري زیاته شي، معاشونه به کم شي، په لګښتونو کې به زیاتوالي راشي. لنډه دا چې: زه دغه ډول سیاسي او ټولنیزي ښوونې ښې نه ګڼم. زه حیران یم چې ته تر اوسه ولې چوپه پاتې یې؟ پکار وه چې پدې ډول بحثونو دې نیوکې کړې وې.

ما خپل ستر ملګري لینین ته وویل: "ترخپله حده مې هڅه کړې چې دغه ډول بحثونه ودروم او خپل ملګري پرې پوه کړم. زما د نیوکو او ټینګار پایله دا وه چې زه یې غیر

انقلابي خطاب کړم. ما پسې داسې خبرې کیږي چې زه انقلابي نه یم. زما د نیوکو یوه مثبته اغېزه دا ده، چې د ګوند دننه اوس پر دغو خبرو بحثونه نه کیږي".

لینین خپلې خبرې روانې وساتلې:" وو، زه خبر یم. ځیني ملګري ما هم د پخوانیو نظریاتو انسان ګڼي. زه له دغه ډول بحثونو څخه کرکه لرم. له دې څخه تنګ نظري او منافقت راڅرګندیږي. دغو نیوکو پر ما کومه اغېزه نه درلودله. هغه ملګري چې تازه له بورژوا ټولنې سره بلد شوي، ډېر ځیرک دي. پکار ده له دوی سره هم کار وکړو او ویې زغمو. پکار ده په خپلو اصلونو ټینګار وکړو. د جنس او واده دغو بحثونو اوسنې ځوانان هم تر یوه حده اغېزمن کړي".

لینین په ملېرنیزم ښه وخندل: "زه خبر شوی یم په جرمنې کې د ځوانانو په خوځښتونو کې هم پر جنس بحثونه کیږي. دا به یوه ډېره بده پایله ولري. که دغه بحث روان وساتل شي، نو خپل ټول وخت به پرې ضایع کړئ. افکار به یې خراب شي او انقلابي جذبې به یې کمې شي. زموږ د ګوند دننه، د ځوانانو او ښځو په خوځښتونو کې پیغلو انجونو او ځوانانو ته د لېدلو ځښته زیات چانسونه برابر دي. زموږ کمونیستو ښځو ته پکار ده چې د ځوانانو خوځښتونو ته پام وکړي او له ځوانانو سره دې باید مثبتې اړیکې ولري. دغه ډول اړیکې به په ځوانانو کې د سرښندنې جذبې نورې هم لوړې کړي. د فردي فکر پر ځای به ټولنیزو افکارو ته کار وکړي. پکار ده، ښځې باید ټولنیز شعور ولري، ترڅو د تنګ نظرۍ له چاپیریال، فردي افکارو او کورنې تعصباتو څخه خلاصون ومومي. دغه ټول قوانین دې باید په دویم قطار کې کېښودل شي.

زموږ د هیواد بې شمیره ځوانان هم د پانګوالي نظام د جنس او اخلاقو په اړه ډول ډول افکار لري. زه ډاده یم، چې زموږ کادري ځوانان، پیغلې او زیارکښه ځوانان د دې ناروغۍ ښکار دي. زه منم چې له جګړې وروسته دغو بحثونو سر راپورته کړی. لا تراوسه د انقلاب پیل دی، پخواني عنصرونه د مینځه تلو په حالت کې دي. په اقتصادي او ټولنیزو اړیکو کې بنسټیز بدلونونه لېدل کیږي. د اقتصادي نظام په بدلون سره پخوانۍ رشتې، پخواني عنصرونه او پخواني نظریات د مینځه تلو په حالت کې دي. نوې رشتې، نظریات او عنصرونه د پرمختګ په حالت کې دي. د خلکو تر مینځ اړیکې، د ښځو او نارینه ؤ تر مینځ اړیکې، د دوی جذبات او احساسات؛ خو لنډه یې دا چې، د ژوند په ټولو چارو کې

بنسټيز بدلونونه ترسترګو کيږي. د خلکو او ټولنې ترمنځ تازه حقوق رامينځته کيږي. خلک نوې دندې پرځان مني. پخوانۍ ټولنه بشپړه د بدلون په حالت کې ده. ته پوهېږې، د پخوانۍ ټولنې له ماتې سره د نوې ټولنې د مينځته راتلو عمل ډېر سست او زيات دردونکی دی. ترکومه ځایه چې د واده، جنس او کورنيو اړيکو خبره ده، نو پدې برخه کې هم ستر بدلونونه لېدل کيږي. د بورژزوا ټولنې دودونه، د وادونو بې ځايه رواجونه او لګښتونه مخ پر ختمېدو دي. په بورژزوا ټولنه کې شخص خپلواک وي او ښځې يې مرييانې وي. يو شخص چې څه وغواړي هغه کوي. د دوی جنسي ژوند له منافقتونو څخه ډک دی. ټول اخلاقيات يې تش په نامه دي. ټول ژوند يې له نه ژوند سره مساوي دی.

د پانګوالي نظام ودونه ټول د جبر ښکار وي، د دغه نظام قوانين کورني بنديزونه نور هم زياتوي او په کورنيو اړيکو کې ټکرونه رامينځته کيږي. دغه د شخصي ملکيت پايله ده. پانګواله ټولنه له سره د منافقتونو ريښه ده. آغلې! بورژزوا د ټولنې د منافقت دويم نوم دی. ولس په داسې حالت کې د دغه نظام خلاف پاڅونونه کوي، چې يوې خواته د ځواک توازن له مينځه ځي او ټولنيز ژوند بدلون مومي. په داسې حالت کې د خلکو جذبات او احسات هم په چټکۍ سره بدلون کوي. د عيش او عشرت د ژوند درلودلو لپاره جګړې کوي. د جنس او عشق بازۍ په معاملو کې له سمونونو څخه څه نه جوړيږي. اوس په دغو اړيکو کې انقلاب رامينځته کيږي. پرولتاريايي انقلاب پخوانيو افکارو او ځانګو ته ماتې ورکړه. د انقلاب په پايله کې ښځې او ځوانان له نويو ټولنيزو اړيکو سره زړونه ښه کوي. که چېرته ښځو او ځوانانو ته جنسي آزادي ورکړل شي، نو پايله به يې ډېره بده وي. دا يوه طبيعي خبره ده چې ځوانان د پخوانيو اړيکو خلاف پاڅونونه کوي. دا يې وخت ندی چې ځوانانو ته د جنسي ژوند په اړه درسونه ورکړل شي او د بورژزوا ټولنې په اخلاقياتو دې نيوکې وشي. پداسې وخت کې دا هم کومه مثبته پايله نلري، ځکه چې يوې خواته انقلاب د پرمختګ په حالت کې دی او دا ښه نه بريښي چې دلته دې دوی په خپلو ماغزو کې د جنس او ودونو مسئلو ته ځای ورکړي. پايله به يې ډېره بده وي. تاسو له مشرې لي لي نا څخه وپوښتئ. د دې ترلاس لاندې چې څومره د زده کړو ښوونيز مرکزونه دي، نو هغه به د دغې تجربې پايله په ښه توګه درته څرګند کړي. ته خو خبره يې چې هغه کمونيسته ده او له هر ډول تعصباتو څخه پاکه ده.

دا یو بنسټیزه مسئله ده چې په ځوانانو کې د جنس په اړه بدلونونه شتون لري او شاته یې د نظریې ځواک ډېر اړین دی. زیاتره خلک د دوی دغه ټکي ته د انقلاب او کمونیست نوم ورکوي او ریښتینی یې ګڼي. زه د پوخ عمر شخص یم، دغه خبرې مې نه خوښیږي. ته به فکر کوې چې زه به بزرګ وم، خو زما له نظره د ځوانانو سره سره سپینږیري هم دغه نظر لري. د دې شاته د بورژزوا دورې د خلکو افکار دي. دغه نظریه زموږ له کمونیستي اصولو سره هېڅ ډول اړیکې نلري. تا به دغه مشهوره نظریه اورېدلي وي، چې په کمونیستي ټولنه کې د جنسي اړیکو تړې داسې وي لکه یو کس چې تندې ځپلی وي. د کمونیستانو په اړه دا یو پروپاګند دی، چې د اوبو د ګلاس نظریه منې/قبلوي. زموږ د ځوانانو یوه برخه پدې نظریې کې راګېر شوي. د ځوانانو او پېغلو لپاره دا نظریه د زهرو په څېر ده.

"د دغې نظریې منوونکي وایي، چې دا یو مارکسیستي نظر دی. خو په حقیقت کې دغه نظریه له مارکسیزم سره هېڅ ډول تړاو نلري. دا بیخي پرځای خبره ده، چې د ټولنې ټول قوانین د اقتصاد پر بنسټ ولاړ وي، خو د ټولنې او اقتصاد اړیکې دومره ساده هم نه وي. فریدریک انګلس په خپل کتاب (کورنۍ، شخصي ملکیت او د حکومت پیل) کې د دغو مسئلو په اړه مارکسیستي نظریه وړاندې کوي. د اوبو د ګیلاس نظریه غیر مارکسیستي ده او د ټولنې دښمنه نظریه هم ده. د جنسي اړیکو جذبه یواځې طبیعي نده، بلکې له انساني کلتور سره هم اړیکه لري. دغو اړیکو هغه وخت هم شتون درلود، کله چې کلتور پیل شوو او تر دغه وخته هم پاتیږي، چې کلتور په سوسیالیزم اوړي. اینګلس په یاد کتاب کې ثبوت کړې، چې ټولنیزې جنسي اړیکې فردي اړیکو ته بدلون کړی ، مینه یې بنسټ ښودل شوی او له دې سره یوه مقدسه اړیکه مینځته راغله. د شخص او ښځې کوروالي یواځې د حیواني جذبې تسکین ندی، دلته شعور هم خپل رول لوبوي. کله چې د ټولنې اقتصادي بڼه بدلون مومي، نو ټولنیزې اړیکې یې هم بدلون کوي. خو د جنسي اړیکو په برخه کې جذبات او احساسات د ټولنې له نورو اړیکو څخه جلا کولی نشو. دا یوه حقیقي خبره ده، کله چې تږې شې، نو اوبه څکې؛ خو ایا کوم یوه شخص به د ښار چټلې اوبه وڅکي. دا خو د دغې پوښتنې یو انفرادي اړخ دی. خو ټولنیز اړخ یې ډېر اړین دی. کله چې څوک تږې شي، نو حتمن به اوبه څکي. د مینې اړیکه خو له دوو پلو سره تړلې وي.

د دوی له کوروالي سره ټولنيزي اړيکي هم مينځته راځي لکه زامن. دا يو ټولنيزه فريضه ده چې د خپلو ماشومانو ساتنه وکړي.

"د يو کمونيست په حيث د اوبو د ګلاس نظريه مې بيخي نه خوښيږي. کله چې دغه نظريه وړاندي شي نو داسې ويل کيږي؛ موخه يې د ميني خپلواکي ده. خو د مينې په اړه دغه نظريه، نه نوې ده او نه هم کمونيستي. په ياد به دې وي، چې د تېري پيړی په ادب کې دغه نظريه د زړه د خپلواکۍ له مخې خپره شوې وه. په بورژزوا ټولنه کې پر دغه هم عمل وشو. دا يواځې د حيواني جذبې يخول/تسکين دی. هغو خلکو چې دغه نظريه وړاندې کړه، ستر پوهان ول.

"زما د نيوکو موخه دا نده چې زه د رهبانيت مبلغ يم. کمونيزم رهبانيت ندی. دا د خوشحالي او ستر ځواک نوم دی، کمونيزم له ټولنيز ژوند سره د ميني نوم دی. خو نن چې په کومه اندازه د جنسي اړيکو تبليغ کيږي، پدې کښې خو نه مينه شته، نه خوشحالي او نه هم ځواک. د انقلاب په وخت کې دا يو ډېر بد عمل دی. دغه ډول بحثونه د ځوانانو پر جنسي او ذهني افکارو بدې اغيزې ښيندي".

ځوانان د خوشحالي حقدار دي. دوی بايد ګټورې لوبې وکړي، بايد د لامبو حوزونه ورته جوړ شي، د سفرونو لپاره اسانتياوي ورته برابرې شي او له دې سره سره د دوی افکار هم بايد ورغول شي ترڅو علم ترلاسه کړي، مطالعه وکړي، څېړني وکړي. دغه ټول کارونه دې بايد په ټولنيزه توګه ترسره شي. [ څه چې مو زړه وغواړي هغه وکړئ! دا آزادي نده ].
په جنسي مسئلو د بحثونو پرځای بايد ګټورو لوبو ته اسانتياوې جوړې شي. له ځانه راهب، او هوس پرست مه جوړوئ، نه هم د دواړو ترمينځ کومه بله لاره غوره کړئ. تاسو ستر ايکس پيژنئ. دا يو ډېر ستر ځوان دی، ځښته زياتې وړتياوې لري، خو زه انديښمن يم چې تش بوتل به وي. په سياسي او انقلابي خوځښت کې داسې ځوانان هېڅ ګټور ندي، ځکه دوی په مختلفو پيغلو پسې روان وي. زه په داسې ښځو او اشخاصو باور نشم کولی چې له يو داسې شخص سره مينه کوي، دوی حسن پرست دي او د هرې ښايستې څېرې شاته روان وي. په انقلابي کړونو کې دغه ډول اشخاص او ښځې هېڅ ډول مثبت رول نه لوبوي.

لينين له خپلي ځوکۍ څخه راپورته شو. په خونه کې يې د قدم په حالت کې خپلې

خبرې پیل کړې: " انقلاب له ولس څخه د ښېړې پاملرنې غوښتنې کوي. انقلاب دغه ډول بې پروایي نشي زغملی. دغه د جنسي اړیکو بحث د بورژزوا طبقې ستراتیژي ده. کارګره طبقه مخ په راپورته کېدو ده، دغه طبقه هېڅ ډول منشیاتو ته اړتیا نلري. بورژزوا طبقه غواړي خلک پر دغه ډول منشیاتو بوخت کړي او تر خپلې اغېزې لاندې یې رواړي. کارګره طبقه باید له دغه ډول منشیاتو څخه لرې وساتل شي. له شراب او ښځې سره د جنسي اړیکو مینه د کارګري طبقې په شان کې نشته. دوی به د پانګوالي نظام هېڅ یو ظلم هم هېر نه کړي. په ټولنه کښې به د خپل حیثیت د ساتلو لپاره انقلاب ته کار کوي او د کمونیستي نظریې جذبې به نورې هم لوړوي. کوم شي ته چې اړتیا ده، هغه شعور او پوهه ده. زه هر ځل دغه خبره تکراروم چې په دغو کړنو کې باید هېڅ ډول نیمګړتیا ونه ښایو او ځوانان باید نور هم ځواکمن شي. په خپل نفس برلاسي هېڅ ډول غلامي نده".

کلارا ما وبخښه، چې زه له دغه ټکي څخه ډېر لرې ولاړم په کوم چې مو بحث پیل کړی وو. په ما دې ټینګار ولې ونکړ. د ځوانانو دغه ډول کړنې ما ډېر اندېښمن کوي. د نوي نسل له راتلونکي سره ځښته زیاته مینه لرم. د دوی راتلونکې زموږ د انقلاب راتلونکی دی. کله چې د پانګوالې ټولنې مرداري، زموږ په انقلاب کې داخل شي او په فصلونو کې د ریښو په څېر وغځیږي. نو لکه څه ډول چې د فصلونو ساتنه کیږي، دغه ریښې باید لرې کړل شي. انقلاب ته هم پکار ده چې دغه مرداري ترې پاکه کړو. په کومو پوښتنو چې ما خپل نظریات شریک کړل، نو دغه نظریات د ښځو له مسایلو سره هم تړلي دي.

ستر لینین خپلې ټولې خبرې وکړې. داسې معلومېده چې د تقریر هره جمله یې په زړه کې لاره پیدا کوي. کله چې یې په خپلو خبرو ټینګار کاوه، نو لاس یا سر به یې خوځوه، ترڅو زه ورته زیاته متوجې شم. زه حیرانه وم چې هغه پر دغو غیرو مهمو موضوعاتو هم دومره پاملرنه کول او د دغو موضوعاتو علم ورسره وو. هغه له سیاست سره تړلو دغو موضوع ګانو باندې هم سترګې نشوې پټولی.

ستر لینین یو واقعي مارکسیست وو. هغه به ټول ځانګړې ټکي له ځان سره یاداښت کول. په دا هم پوهېده چې کوم ځای کې ګټور ثابت کیږي او په کوم ځای کې هېڅ کومه پایله نه ورکوي. د هغه یواځینۍ موخه دا وه چې انقلاب دې ژر تر ژره خپل منزل ته ورسیږي او ولس ورته اماده کړي. خپل ټول پام یې انقلاب ته ځانګړی کړی وو. هغه

پدې هم پوهېده چې په سیمیزه او نړیواله سطحه انقلاب ته باید څه ډول دوام ورکړل شي. د ټولو هیوادونو تاریخي بنې یې څېړلې وې او د هر هیواد انقلاب یې تحلیل کړی وو. د هغه له نظره د کارگرو انقلاب یو نړیوال انقلاب وو.

ما ورته کړل: "ستر لینینه! افسوس دی، چې ستا دغه نظریات سلگونه زرو خلکو ندي اورېدلي. ته پدې پوهېږې، چې زه ستا همفکره یم خو دا به ثومره اړینه وه، چې ملگرو او دښمنان دواړو ستا خبرې اورېدلې وې".

لینین مسکی شو او ویې ویل:" کېدای شي یو وخت د دغو پوښتنو په اړه څه ولیکم. خو اوس نه. ځکه اوس ډېر کم وخت لرم. اوس زما ټوله وخت د نورو پوښتنو په تحلیلو کې صرف کیږي. دغه وخت له پیچلو او مهمو موضوع گانو سره مخ یم. اوس هڅه کوم تر څو شوروي اتحاد نور هم ځواکمن شي. اینگل نن هم په سهیل کې د انقلاب له دښمنانو سره په جگړو کې بوخت دی. زه باوري یم چې بریا زموږ ده. او کله چې مو بریا ترلاسه کړل نو انگلیسان او فرانسویان به اړ وي، چې د روسیې کورنیو معاملاتو ته سترگې خښې کړي. موږ به اړ وو چې خپل پوځ بېرته راوغواړو. تر ټولو پیچلې مسئله خو د جوړولو ده، چې تر اوسه مو بیخي پیل کړې هم نده".

لینین ته مې وویل چې زما موخې هم دغه دي خو پدې کې هېڅ شک هم نشته چې مخالفې ډلې به کرارې نه کښیني. پلورل شوي اشخاص به د موقع پرستۍ تر نامه لاندې دغه رد کړي. نه خو له دغه څخه انکار کېدلي شي، چې د ښځو لپاره زموږ ننۍ غوښتنې په غلطو مفاهیمو فکر کړل شي او غلط تفسیر یې وشي.

"دا نو څه مانا ورکوي؟ لینین پورته شو؛ دغه خطر خو په هر هغه شي کې شتون لري چې څه وایو او کوو یې. که موږ دغه ډول ووېریدلو او دغه مناسبې کړنې مو پرېښودلې، نو د هندي ستالائیټ په څېر به شو (د پخواني زمانې ځیني خلک به له خپلو کلیو څخه جلا شول او په لوړو غرنیو سیمو کې به اوسېدل). موږ باید هېڅ ډول هم ونه وېرېږو، گڼې له خپلو اصولو څخه به په شا شو. موږ یواځې دې ته نه گورو چې څه ډول غوښتنې لرو؛ بلکې دا هم مهمه ده چې څه ډول یې غواړو. زه باوري یم چې ډېر څه به مو واضح کړي وي. دا یو ډېره بده پایله لري، چې د ښځو په غوښتنو کې چپ پاتې شو. یه داسې نه ده. موږ ته پکار ده چې اوسني حالاتو ته په کتو سره ځیني غوښتنې پوره کړو او ځیني بیا له

وخت سره.

پدغه ډول ګډوډۍ کې د بورژوا طبقه هڅه کوي، ترڅو خلک ګمراه کړي. نو په پايله کې به دغه خلک اړ شي چې يا خو له موږ سره وجنګيږي او يا هم شاته پاتې شي. نو په دغه ډول به دغه ټول زموږ خواته راټول شي او زموږ کمونيستي بڼه به ښايي. دغه هڅې به زموږ لپاره هغه بې شميره ښځې رانږدې کړي چې د اشخاصو تر تسلط لاندې، خپل کاري ځواک او په ټوله کې ځانونه د بورژزوا طبقې تر استثمار او کړاو لاندې محسوسوي. کله چې ټولو خلکو زيارکښې ښځې پرېښودې، او له دوی سره يې خيانت وکړ، نو بيا به پوه شي او له موږ سره به يوځای هڅې کوي. ايا زه دا ومنم يا يې پر تا ومنم چې د ښځو د حقونو لپاره د هڅو کولو يوه موخه دې دا هم وي چې د ځواک فتح او پرولتاريايي ديکتاتوري د پاڅون سره هم تړلي اوسي؟. دا يوه واضح خبره ده، چې د زيار کښو ښځو يوه ډله د حکومتي اقتدار سره هېڅ ډول زړه نه ښه کوي. دا يو څرګند حقيقت دی. بلکې بې شميره زيارکښې ښځې خو هېڅ ډول حکومتي چارو ته زړه نه ښه کوي، که چېرته موږ د خپلو غوښتنو خبرې وکړو او په زور سره يې تر خلکو ورسوو. يه، موږ ته پکار ده چې زرګونه ځله خپلې موخې د زيارکښو ښځو له تکليفونو، اړتياو سره ملې په سياسي توګه تر دوی ورسوو ترڅو يې عامو ښځو ته ورسوي. پکار ده، دوی پوه شي چې پرولتاريا ديکتاتوري له دوی څخه څه غوښتنې لري. له اشخاصو سره د ښځو د حقونو ورته والی هم په قانون کښې او هم په عمل کښې. په ټولنې او حکومت کې هم. هرڅه به هله وشي کله چې بورژزوا اقتدار له مينځه ولاړ شي. دا به شوروي اتحاد ثابت کړي.

"شوروي اتحاد يې ثابتولی شي". زه ولاړه شوم او ومې ويل: "دا به مو ستره فتح وي!".

لينين خپلې خبرې وغځولې:

د ښځو پر غوښتنو شوروي اتحاد د پرولتاريا ديکتاتوري لاندې هر څه روښانوي. دا اوس د پرولتاريا او ديکتاتورۍ ترمينځ د هڅو موخه نده، بلکې که چېرته يوځلي بشپړ شي نو په کمونيستي ټولنې کې به يو ډېر بنسټيز رول ولوبوي. د نورو هيوادونو ښځې به هم هيله مندې شي. په داسې کولو سره د پرولتاريا ديکتاتوري نوره هم ځواکمنه کيږي. د پرولتاريا په طبقاتي هڅو کې د ښځو ملاتړ تر لاسه کولو لپاره د بندر دې خواته هغې

خواته له ټولو ښځو سره يې بايد توپير وشي. په کمونيست ګوند کې د داسې ښځو ځينته زياته اړتيا ده چې پر اصلونو او قوانينو برلاسې وي. خو پکار نده چې ځان خطا باسو. زموږ سيمه ييزو ډلو تر اوسه دغه پوښتنې په بشپړه توګه تحليل کړي ندي. کله چې په کمونيستي پاڅون کې د زيارکښو ښځو ولسي خوځښت مينځته راشي، نو ګوند به نور هم پياوړی شي. دوی نپوهيږي چې دغه ډول خوځښتونه درلودل د ګوند لپاره څومره مثبت ثابتېدلي شي. ياني د ګوند نيمه برخه هم ورته ويلې شو.

دوی په ښځو کې د انقلابي جذبې پيدا کولو ته په دويم قطار کښې ځای ورکوي لکه څنګه چې دا يواځې د کمونيستو ښځو کار دی. پکار ده چې کار دې نور هم تيز کړل شي خو دوی يې پرځای پروپاګند جوړوي. دا غلط کار دی. په بنسټيزه توګه غلط دی! دا يواځې فردي جلاتوب مينځته راوړي. داسې به د ښځو مساوات سرچپه شي. زموږ په سيمه ييزو خوځښتونو کې د دغې خبرې غلطۍ چېرته نغښتي دي؟ موخه مې شوروي اتحاد ندی. په پايله کې دا خو د ښځو او تر مينځ يې د کار کولو وړه خبره ده. وو! سل په سله دغه ډول دی. زه د خپلو زياتو سترو ملګرو په اړه داسې ويلې شم (کمونيستان چې څومره هم وڅېړې نو له مينځه يې يو نامعقول شخص مخې ته راځي). که مو باور نکيږي نو وپلټئ! لکه څه ډول چې دوی د ښځو په اړه په خپلو ماغزو کې څه لري. له دې څخه به هم دروند ثبوت څه وي او څه کېدلی شي، اشخاص به پداسې حال کې ويني، چې د ښځو په اړه به ښه بدرد وايي، خو کله چې يې ويني، دغه شخص به د ښځو شا نيولې وي. د بورژزوا ښځو د حواله ورکولو اړتيا نشته، چې د خپل کور ټولو کارونو او د ماشومانو ساتنو ته يې ملازمين نيولي وي. زه د هغو ښځو په اړه خبرې کوم، چې د ټولنې يوه غټه کتله يې نيولې او کارګري ښځې هم پکښې شامليدی شي، چې ټوله ورځ په فابريکې کې د کار کولو په مقابل کې پيسې ګټي.

په دوی کښې پرولتاريا هم شتون لري، فکر دې وکړي، چې د خپلو ښځو څومره تکليفونه او مشکلات کمولی شي يا په بشپړه توګه يې خلاصولی شي، که چېرته ښځو سره يوځای کار وکړي. خو يه! داڅه وايې؟ دا خو (د خاوند د وقار خلاف عمل دی). بيا هم غوښتنې لري، چې دوی دې آرام او خوشحاله وي. د ښځو د کورني ژوند کارونه خو له بې شميرو نورو کارونو څخه هم سخت تماميږي. خاوندان يې د پخوانيو زمانو په څېر د

باداراڼو کړنې ترسره کوي. په پټه خو ښځې خپل بدله/انتقام اخلي. د دې د وروسته پاتې کېدو او د خپل خاوند د بې سوادۍ له امله نوی ماشوم هم هېڅ ځواکمن فکر نلري. د داسې ښځو بیلګه د هغه چنجیو په څېره ده، چې ورو ورو خو تل، له دننه یو انسان یا میوه له مینځه وړي. زه د زیارکښانو له ژوند سره یواځې د کتابونو له مخې نه یم اشنا. موږ ته پکار ده چې د ښځو پر زده کړو نور هم کار وکړو. پکار ده په ګوند او اولس کې پخوانې مرییوالي نظریې له مینځه یوړل شي. دا به زموږ له سیاسي موخو څخه یوه موخه وي.

د شوروي اتحاد د ننني ورځو د حالاتو په اړه له پوښتنې وروسته لینین ځواب راکړ:

د پرولتاریا حکومت په دیکتاتوري کښې کمونیست ګوند تل هڅې کوي، چې د ښځو هر ډول نابرابري له مینځه یوړل شي او د نارینه ؤ په څېر دې حقونه تر لاسه کړي. د دې خبرې اړتیا نشته، چې د قانون له مخې نر او ښځه یو ډول مساوي حقونه لري. د دغه مساوات راوړلو لپاره ټولې ځانګې خپلې هڅې کوي. په اقتصاد، اجرائیه، مقننه او قضایه کې د کارکولو لپاره د ښځو لړلیکونه ترتیبوو. د ټولو ښونیزو مرکزونو، مکتبونو او پوهنتونو دروازې د دوی لپاره خلاصې دي، ترڅو خپل مسلک پرمخ یوسي او ټولنه مثبت لوري ته ور ودانګي. یانې په لنډه توګه، موږ ټولنې ته کار کوو نه یو فرد ته. ښځو ته د کورنیو غلامیو او د خپل خاوندانو له انحصار څخه په بشپړه توګه خلاصون ورکوو. په دوی کښې داسې وړتیاوې دي، چې ټولنه د پرمختګ په لور بیایي. د ماشومانو لپاره ښه مرکزونه جوړوو. زموږ د ښځو کارګري قوانین د نړۍ په سطحه له ټولو هیوادونو څخه لوړ دي. موږ زېږنتونونه، د ښځو د روغتیا مرکزونه، د ماشومانو د ساتلو مرکزونه او همداسې نور مرکزونه جوړوو. موږ خپلې هڅې کوو ترڅو د اړمندو او بې روزګارو ښځو هر ډول اړتیاوې پوره کړو. تر اوسه په دغو برخو کې ځښته کم کار شوی دی او دغه د دوی د مختنه وړلو لپاره کافي ندي. خو د روسیې په شاهي دورې او پانګوالي نظام کې چې دوی کوم حیثیت درلود، تر هغې نو موږ ډېر کار ورته کړی. دا یو ډېر ښه پیل دی او په راتلوونکې کې به ډېر مثبت رول ولوبوي. په بهرنیو هیوادونو کې دغه پرمختګونه ورځ تر بلې څرګندیږي، چې د ښځو پرته موږ هېڅ هم نه یو. لږ فکر وکړئ! په داسې هیواد کې د دغه کار موخه څه ده چې اتیا سلنه نفوس یې بزګر دي. په وړوکو کرنیزو کروندو کې د ښځو د فردي غلامي او بندیز پایله ده. په دغه برخه کې تاسو له موږ څخه هم ډېر پرمختګ کولی شئ، که چېرته

د خپل پرولتاریا ځواک وپیژنئ. له زیاتو مشکلاتو سربېره بیا هم موږ خوابدي نه یو. د مشکلاتو له زیاتوالي سره موږ نور هم ځواکمن کیږو. که چېرته موږ د ښځو لپاره عملي کارونه وکړو، نو پایله یې هم ځښته زیاته روښانه ده. شوروي اتحاد به ستر کارونه ترسره کړي. زموږ موخه کمونیستي قوانین دي نه بورژزوا. کمونیستان غواړي د ژوند په ټولو چارو کې ستر بدلونونه راوړي. په کمونیزم کې شخصي ګټې ټولنیزو ګټو ته بدلون کوي. د پرولتاریا دیکتاتورۍ له مخې به د کمونیزم پاڅونونه د ښځو د آزادي لپاره تر کلیو هم وغځول شي. که چېرته برېښنا ورغوم، نو زموږ کرنیزي ځمکې به نور هم ښه حاصل ورکوي. دا یو ستر سکیم دی. په دغه لاره کې ځښته زیات مشکلات دي. پکار ده په ولس کې د انقلاب جذبې راپارول شي. او د دغه لپاره باید دوی ته تمرینونه ورکړل شي. سلګونه زره ښځې دې باید ګډون وکړي.

په اخرو لسو دقیقو کې یو چا دوه ځلي دروازه وټکوله، خو لینین خپلې خبرې ونه درولې. اوس یې دروازه خلاصه کړه او ورته یې وویل: "زه درځم".

ماته یې راوکتل، موسکی شو او راغبرګه یې کړه:

"ته پوهیږې! کلارا زه به له دې خبرې ښخه ګټه پورته کړم، چې له یوې ښځې سره مې خبرې وکړې او د ښځې د بدنامۍ زماني د تحلیلو په اړه لږ ناوخته پوه شوم. که څه هم دا ځلي دا یوه ښځه نه وه، بلکې نر وو چې ځښته زیاتې خبرې یې درته وکړې. په لنډه به ووایم: ته یوه ډېره ښه اورېدونکې یې. ځکه خو اړ شوم چې ډېر بحث درسره وکړم او تا په ژور فکر سره هر څه ته غوږ نیولي وو".

لینین زما کورتۍ ته وکتل او په ګپه یې راته وویل. "پکار ده تر دې هم ګرمه کورتۍ په ځان کړئ"

هغه یوه لنډه ساه واخیسته او را ته یې وویل: "مسکو کې یخني زیاته ده. پکار ده چې خپل ځان ته پام وکړې، چې ساړه دې ونه شي". وروسته په خوښۍ له ما ولاړ.